# مسیر

ورځپاڼه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

دوشنبه د ۱۳۹۹ د مرغومې ۲۹مه | د ۲۰۲۱ د جنوري ۱۸مه | ۶۶۵مه گڼه


## کاروبار

۴ مخ

### تویټر

د ټویټر کلنۍ گټه‌وټه تر ۲ میلیاردو ډالرو اوړي.
زرگونه کسان کار ورسره کوي او اوسنی مدیر یې لا هم
د دغه شبکې بنسټگر او لومړی کاروونکی «جک» دی.

twitter

## په کابل ښار کې د نږدې ۷۰۰ میلیونو افغانیو په لگښت څلور کیلومتره سړک جوړیږي



د پلازمېنې زون د پراختیا اداره وایي، چې په کابل ښار کې د نږدې ۷۰۰ میلیونو افغانیو په لگښت څلور کیلومتره سړک جوړوي. یاده اداره زیاتوي چې د دغه سړک په بشپړېدو به ترافیکي گڼه گوڼه کمه شي. د پلازمېنې زون پراختیا ادارې رییس نجیب الله شینواري د دغه سړک پرانیستې په مراسمو کې وویل، د کابل ښار د ۱۱ مې او ۱۷ مې حوزو د مواصلاتي سړک د دویمې برخې چارې پیل شوې او په ۲۸ میاشتو کې به بشپړې شي. نوموړي زیاته کړه، دغه سړک څلور کیلومتره اوږدوالی لري چې د شاه توتک سیمې د کاربزمیر سیمې د پخوانۍ تلاشۍ له سیمې سره تړي. د سرچینې په خبره، د دې پروژې تطبیق د شمال لویې لارې د ترافیکي گڼې گوڼې په کمېدو کې مهم دی او د ۱۱ مې او ۱۷ مې ناحیو مواصلاتي لار د امکان تر کچې لنډوي.
د هغه په خبره، د دې پروژې لگښت چې شاوخوا ۷۰۰ میلیونو افغانو ته رسېږي، د پلازمېنې زون د پراختیا ادارې له خوا ورکول کېږي.

# د هدفي بریدونو په دوام؛

## کابل کې د دوو ښځینه قاضیانو وژل کېدو بهرني او کورني غبرگونونه پارولي دي



۲

### د طالبانو د ډرون بریدونه څه پیغام لري؟

۲ مخ

### افغانستان؛ د سرې جگړې قرباني

۲ مخ


### تلاش هند برای ابر قدرت شدن در جهان

۳ مخ

## نعیم: طالب پلاوي په دوحه کې له زلمي خلیلزاد او مېلر سره پر سوله خبرې کړې

د طالبانو د سیاسي دفتر ویاند محمد نعیم ویلي، چې په دوحه کې د طالبانو د سیاسي دفتر رییس ملا برادر او ورسره پلاوي د افغان سولې لپاره د امریکا له ځانگړي استازي زلمي خلیلزاد او جنرال مېلر سره لیدلي دي.
د نوموړي په خبره، په یاده ناسته کې د امریکا-طالبانو د هوکړې پر اهمیت او د هغې د ټولو مادو پر ښه او پوره تطبیق تفصیلي خبرې شوې دي. نعیم زیاته کړې، طالب پلاوي د خپلو پاتې بندیانو پر خلاصون او له تور لیست څخه د طالب مشرانو پر لرې کولو ټینگار کړی دی.
نوموړي دغه راز زیاته کړې چې د دوحې هوکړې د موادو عملي کولو په برخه کې اړین گامونه نه دي اخیستل شوي چې دې چارې د سولې پر روان بهیر منفي اغېز کړی دی.
دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستیو کې طالبانو او امریکا پر یو او بل تور پورې کړی چې د دوحې له تړونه یې سرغړونه کړې ده. طالبانو په دې وروستیو کې د یوې اعلامیې په خپرولو سره وویل چې امریکایي ځواکونو په څو ولایتونو کې په غیر جنگي سیمو پر دوی هوایي بریدونه کړي دي. طالبانو خبرداری ورکړی چې دا ډول بریدونه د دوحې له هوکړې سره په ټکر کې دي او دوام به یې امریکا ته ناوړه پایلې ولري.
خو امریکا بیا د طالبانو دا ادعا رد کړې او ویلي یې دي چې طالبانو د دوحې تړون خلاف تاوتریخوالی ډېر کړی دی.


## وېلسن: طالبان باید پوه شي چې په هدفي وژنو نړیوال را پارېږي



۲ مخ

## اداره عالی بازرس ۹ مقام پیشین و برحال وزارت صحت عامه افغانستان به څارنوالی معرفی کرده است

اداره عالی بازرس ۹ مقام پیشین و برحال وزارت صحت عامه افغانستان را به ظن عدم شفافیت در پروسه‌ی استخدام کارمندان شفاخانه‌های افغان-جاپان و محمدعلی جناح، عدم پرداخت به‌موقع معاشات کارمندان صحی، عدم مؤثریت آموزش‌ها در استفاده از ونتلاتورها، ارائه‌ی آمار و ارقام نادرست و نقض قانون تدارکات و مواد طرزالعمل مصرف بودجه منظورشده جهت جلوگیری از شیوع ویروس کرونا و خریداری‌های مشکوک تجهیزات طبی لازم جهت «تحقیقات لازم» به لوی څارنوالی معرفی کرده است.
اطلاعات روز به اسنادی دست یافته است که نشان می‌دهد، فیروزالدین فیروز وزیر پیشین وزارت صحت عامه، داکتر ماموسی زیور و داکتر شفیق‌الله شهیم، معینان اسبق مالی و اداری این وزارت، داکتر فدامحمد پیکان و داکتر وحید مجروح، معینان پیشین و برحال عرضه‌ی خدمات صحی این وزارت، داکتر میرلیث مصطفی، آمر رسیدگی به حوادث غیرمترقبه و مسئول مرکز حالات اضطرار، حیات‌الله نوابی نماینده‌ی ریاست طب معالجوی، ناصر اسلام نماینده‌ی ریاست فارمسی و عبدالرازق ابراهیمی نماینده‌ی آمریت رسیدگی به حوادث غیرمترقبه به‌عنوان سه عضو هیأت معاینه طی دو مکتوب جداگانه جهت تحقیقات بیشتر در ارتباط به ظن‌های موجود به لوی څارنوالی معرفی شده‌اند.
همچنان براساس این اسناد، تیم بررسی‌کننده و مدیریتی شفاخانه محمدعلی جناح پس از ارزیابی از اجراآت در این شفاخانه، گزارش‌اش را به مقام وزارت صحت عامه ارائه کرده است. این تیم در گزارش‌شان مشکلاتی را در بخش‌های تهیه‌ی اکسیجن برای مریضان مبتلا به کووید-۱۹، پرداخت معاشات کارمندان شفاخانه، اعاشه‌ی مریضان، تأمین ادویه، وضعیت استاک‌ها، انتقال اجناس و حفاظت‌اش از بالون‌های اکسیجن، تثبیت و فهرست کرده است.

Aksos

اکسوس کتابپلورنځی

Aksos Book Store

Add a Book to Your Life

دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ

0798-98-9696, 0202504652

aksosbookstore@gmail.com

www.aksosbookstore.af

Aksos Book Store

Aksos Book Store

سرلیکنه

## د طالبانو د ډرون بریدونه څه پیغام لري؟

په تېرو څو ورځو کې طالبانو په ځینو سیمو کې ډرون الوتکې کارولي او پر امنیتي ځواکونو یې بریدونه کړي دي. که څه هم دغو بریدونو پراخه مرګ‌ژوبله نه ده اړولې، خو پراخه وېره یې خوره کړې ده. په همدې دریو ورځو کې په کندوز کې دوه ځله طالبانو همدا کار کړی، چې په یوه همداسې برید کې یې د پوځ یو چورلکه هم زیانمنه کړې ده. پرون یو ځل بیا طالبانو د اردو پر یو کنډک د ډرون په مرسته برید کړی چې مرګ ژوبله نه لري. په دواړو بریدونو کې امنیتي ځواکونه نه دي توانېدلي چې ډرون را وغورځوي، نو ځکه ډرون خوندي تللي دي.

د طالبانو له خوا د ډرون کارونه څه پیغام لري او څه کول پکار دي؟


اوس واضح شوه چې طالبانو ډرون تر لاسه کړي چې په هوایي بریدونو او جاسوسۍ کې یې کاروي. که څه هم دا ډرون جنګي نه دي، خو طالبان یې په بریدونو کې کاروي. وروستي پېښې ښيي چې طالبان غواړي دا الوتکې و ازمويي او معلومه کړي چې دوی په کومو ځایونو کې د الوتکو پر مټ څه ډول بریدونه کولی شي. ښایي په راتلونکي کې د دغه ډول ډرون الوتکو کارونه او پر مټ یې بریدونه زیات شي. دا کار ښيي چې د افغانستان جګړه لا پېچلې کېږي او څومره چې جګړه اوږدېږي، ورسره د جګړې ډګر ته نوې وسلې هم راځي. اټکل دی چې تر اوسه د امریکا له وېرې داسې وسلې افغان جګړې ته نه راتللې چې د جګړې بڼه دا ډول بدله کړي، خو اوس چې امریکا وځي، نو ځینې سیمه‌ییز ځواکونه به هڅه وکړي چې د افغانستان جګړه لا پېچلې کړي. د دې لپاره د نورو کارونو تر څنګ یوه لاره دا ده چې ښکېلو اړخونو ته داسې وسلې ورکړي چې د جګړې پر توازن اغېز وکړي او هغه ځایونه له ګواښ سره مخ کړي چې تر اوسه پورې امن ګڼل کېدل. دا کار ښایي د دې لپاره هم وي چې سیمه‌ییز هېوادونه ځینې وسلې و ازمويي او یا هم په جګړه کې داسې بدلون راولي، چې د دوی په ګټه تمام شي.

څومره چې جګړه غځېږي، همدومره خونړۍ او پېچلې کېږي. هغوی چې په جګړه ټینګار کوي او سوله جدي نه ګڼي، باید پوه شي چې له داسې حالت سره مخ کېدلی شي چې تر اوسه نه وو مخ شوي او آن د دغه ډول حالت اټکل هم ناشونی دی. یوه بېلګه یې همدا ده چې طالبانو ډرون پیدا کړي چې دا یې لومړني څرګونه دي. که یې پیل له داسې وېروونکو بدلونونو کېږي، نو وروسته به کیسه لا زیاته خرابه وي.

هغوی چې په جګړه ټینګار کوي، باید پوه شي چې ګواښ لوی دی او ډېر څه د وړاندوینې او اټکل وړ نه دي. د جګړې دوام سر له اوسه د لوی خطر زنګونه لري. د طالبانو له خوا د ډرون کارول ښيي چې اوس ډېر ځایونه خوندي نه دي او هېڅوک په جګړه کې ګټه نه شي کولی. له همدې امله پر جګړه د ټینګار پر ځای باید پر سوله ټینګار وشي. د سولې لپاره قرباني حتمي ده او پکار ده چې موږ د لوی ګواښ د مخنیوي لپاره ډېر قرباني ورکړو او سوله بریالۍ کړو.

# د هدفي بریدونو په دوام؛

## کابل کې د دوو ښځینه قاضیانو وژل کېدو بهرني او کورني غبرګونونه پارولي دي



په هېواد کې د تاوتریخوالي په دوام تېره ورځ په کابل ښار کې د سترې محکمې پر کارکوونکو وسله وال برید وشو، چې په هېواد د ننه او بهر یې غبرګونونه لرل. د کابل ښار امنیتي مسوولین وایي چې د کابل شار د لسمې ناحیې په مربوطاتو کې موټرسایکل سپرو وسله والو د سترې محکمې پر ښځینه کارکوونکو برید وکړ او دوی ته یې مرګ ژوبله واړوله. ولسمشر غني دا د طالبانو کار بللی او له دوی یې یو ځل بیا غوښتي چې تاوتریخوالی کم کړي. په کابل کې د امریکا د سفارت شارژدافیر هم ویلي چې دا د طالبانو کار دی او که دغه ډله سوله غواړي، باید ورته کړنې بس کړي.

په وروستیو کې په کابل ښار کې هدفي وژنې او د مقناطیسي ماین چاودنې ډېرې شوې دي. سره له دې چې وسله وال طالبان په دغو پېښو کې لاس لرل ردوي، خو افغان حکومت او اوس تازه امریکا یې د دوی کار بولي او په خبره یې، دغه ډله په دې توګه خپلو موخو ته نه شي رسېدلی. د همدې بریدونو په دوام، تېره ورځ سهار مهال د کابل ښار د لسمې ناحیې په مربوطاتو کې د سترې محکمې پر یوه موټر ناپېژانده وسله والو برید وکړ. په برید کې د دې محکمې دوې ښځینه کارکوونکې وژل شوې دي او یوه مېرمن او موټر چلوونکی ټپیان دي. د دغه برید مسوولیت تر اوسه کومې ډلې نه دی منلی، خو افغان حکومت یې د طالبانو کار بولي.

ولسمشر غني په همدې مناسبت په یوه خپاره کړي پیغام کې ویلي، چې دا یو وحشتناک ترهګریز عمل دی. نوموړي دغه پېښه غندلې ده او هغه یې له ټولو انساني او اسلامي اصولو سره په ټکر کې عمل بللی دی. د ولسمشر غني په خبره: «د طالبانو او نورو ترهګرو ډلو له لوري زموږ پر بې دفاع او ملکي هېوادوالو ترهګریز برید، له اسلامي ارشاداتو سره په ټکر کې عمل دی او دغه راز د سولې له روحیې او د ملت له اجماع سره په تضاد کې دی.»

ولسمشر دغه راز په دې اعلامیه کې یو ځل بیا له طالبانو غوښتي چې دایمي اوربند وکړي او له جګړو لاس په سر شي. د ده په خبره، ترور او وحشت د ستونزې او ناورین د ختمولو لار نه ده او یوازینۍ لار دا ده چې اوربند وشي او وسله وال طالبان د سولې له پروسې سره یو ځای شي. هغه زیاته کړې: «یو وار بیا په ټینګار او تکرار له طالبانو غواړي چې زور، ترور، وحشت او جنایت د ستونزو حل نه دی او په هېواد کې روان ناورین او جګړه لا سختوي او اوږدوي، نو د دایمي اوربند په منلو سره د سولې لپاره خپله ریښتینې او عملي اراده وښيئ.»

په بهرنیو غبرګونو کې قطر هغه هېواد دی چې په کابل ښار کې یې پر ښځینه قاضیانو وروستی برید غندلی دی. د دغه هېواد د بهرنیو چارو وزارت ویلي چې دوی په افغانستان کې د تاوتریخوالي پر کمېدو او د سولې بهیر پر چټکتیا ټینګار کوي او دغه ډول ترهګریز بریدونه په کلکو ټکو غندي.

بلخوا په کابل کې د امریکا د سفارت شارژدافیر هم پر ښځینه قاضیانو برید د وسله والو طالبانو کار بولي. راس ویلسن په همدې مناسبت په خپرو کړو ټویټ پیغامونو کې ویلي دي، چې د طالبانو دغه ډول کړنې او هدفي بریدونه به د سولې روحیه زیانمنه کړي او د نړیوالو غوسه به وپاروي، نو که دغه ډله سوله غواړي، باید دا بهیر ودروي. هغه ویلي: «طالبان باید پوه شوي چې دغه ډول کړنې، چې دوی یې مسوول دي، نړیوال غوسه کولی شي. نو که دغه ډله سوله غواړي او د سولې غوښتونکې ده، نو دا ډول بریدونه دې ودروي.»

په کابل کې د امریکایي سفارت سرپرست راس ویلسن ویلي چې امریکا دا او ورته نور بریدونه غندي او د سولې او یووالي روحیې خلاف یې بولي او د طالبانو په ګډون له نورو ترهګرو ډلو غواړي چې تر هرڅه ژر پر بې دفاع ملکي افغانانو بریدونو ته د پای ټکی کېږدي. بلخوا وسله والو طالبانو بیا تر اوسه د دغو څرګندونو په اړه غبرګون نه دی ښودلی او نه یې هم په کابل کې د وروستي برید مسوولیت منلی دی.

## فرانسه: که امریکا د ۲۰۱۵ز کال تړون ته راونه ګرځي، ښايي ایران اټومي وسلې جوړې کړي



د فرانسې د بهرنیو چارو وزیر ژان ایو لو دریان وايي، په فوردو تاسیساتو کې د ایران له خوا د شل سلنه یورانیمو غني کول په ډاګه کوي، چې یاد هېواد د اټومي وسلو د ترلاسه کولو هڅه کوي. نوموړي په یوه ځانګړې مرکه کې ویلي، د نړۍ له قدرتونو سره له شوي تړونه د ایران پرله پسې سرغړونو د دې اړتیا رامنځته کړې، چې واشنګټن او تهران باید بېرته یاد تړون ته ور وګرځي.

نوموړي دا څرګندونې داسې مهال کوي، چې د امریکا د اوسني ولسمشر ډونالډ ټرمپ د واک څو ورځې پاتې دي. نوموړي په ۲۰۱۸ز کال کې په یوه اړخیز ډول د ایران له اټومي تړونه ووت او بېرته یې پر دغه هېواد بندیزونه ولګول. له دې سره پر ایران فشارونه سخت شول او دغه کار د تهران او واشنګټن اړیکې بېرته خرې پرې کړي.

ژان-ایو لو دریان ویلي، په راتلونکي جون میاشت کې د ایران له ولسمشریزو ټاکنو مخکې ایرانیانو ته وايي چې خپل اټومي فعالیتونه چې اوسمهال ډېر پر مخ تللي، ودروي او په اټومي تړون کې شویو ژمنو ته دې ور وګرځي.

د یادونې ده چې د فوردو تر ځمکې لاندې تاسیساتو کې د شل سلنه یورانیمو غني کول که څه هم د اټومي وسلو د جوړولو په مانا نه دي، خو دا کار د دغه ډول وسلو جوړولو ته وخت لنډوي. د فرانسې د بهرنیو چارو وزیر خبرداری ورکړی چې د ایران دا هڅې باید ودرېږي؛ ځکه دا د اټومي وسلو د ظرفیت جوړولو د پروسې یوه برخه ده. ایران بیا له دې وړاندې تل ویلي، چې اټومي وسلې نه جوړوي او ټینګار یې کړی چې اټومي پروګرام یې سوله‌ییز او ملکي اهداف لري.

په ورته مهال د امریکا نوي منتخب ولسمشر جو بایډن ویلي، که ایران بېرته د اټومي تړون ژمنو ته ور ستون شي، دی چمتو دی چې امریکا بېرته په دغه تړون کې شامله کړي.

خو د فرانسې د بهرنیو چارو وزیر بیا ویلي، یوازې دا بسنه نه کوي چې واشنګټن او تهران بېرته تړون ته ستانه شي. د هغه په خبره، سختو بحثونو ته اړتیا ده چې ایران د اټومي وسلو پراختیا او د خپلو ګاونډیو د بې ثباتۍ هڅې ودروي.

پردې سربېره، اروپايي قدرتونو هم ایران ته د یورانیمو د یوه ریاکټور د څېړنې پر سر خبرداری ورکړ او ویې ویل، چې دا کار له اټومي تړونه سرغړونه ده. برېټانیا، فرانسې او جرمني په یوه ګډه اعلامیه کې ویلي: «موږ په کلکه له ایرانه غواړو چې دا ډول فعالیتونه پای ته ورسوي او په بشپړه توګه هغو ژمنو ته وګرځي، چې په اټومي تړون کې یې کړې دي.»

## سرچینې: د نامعلومو دلایلو له کبله په دوحه کې د پلاوو ترمنځ له یوې اونۍ راهیسې ناسته نه ده شوې

په قطر کې ځینې سرچینې وايي چې له تېرې یوې اونۍ راهیسې په دوحه کې د دولت او طالبانو د سولې د مرکچي پلاوو غړو ترمنځ هېڅ ناسته نه ده شوې.

دا په داسې حال کې ده چې د مرغومي په ۱۶مه چې کله د دولت پلاوی قطر ته ولاړ، په سبا یې (د مرغومي په ۱۷مه) د دویم پړاو خبرو لومړۍ ناسته ترسره شوه، چې له هغه وروسته بیا دوې نورې ناستې هم وشوې، خو له تېرې یکشنبې راهیسې بله ناسته نه ده ترسره شوې.

په قطر کې د دولت د مرکچي پلاوي یوه غړي د نوم نه ښودو په شرط رسنیو ته ویلي، چې د تېرې اونۍ له یکشنبې راهیسې د دوی او طالبانو ترمنځ د سولې خبرو اجنډا په اړه ناسته نه ده شوې.

سرچینې زیاته کړې، چې دوی څو ځلې له طالبانو غوښتني چې ناسته وکړي، خو تر اوسه نه دي حاضر شوي. سرچینې ویلي، دوی نه پوهېږي چې مقابل لوری ولې ناستو ته زړه نه ښه کوي.

د دې سرچینې په خبره، د پلاوي غړي یې په منظمه توګه هره ورځ خپلمنځي ناستې ترسره کوي او د اجنډا د موادو په ښه تنظیم او ترتیب بوخت دي. په ورته مهال په قطر کې د طالبانو سیاسي دفتر د افغانستان د اسلامي جمهوریت د پلاوي د دې څرګندونو په اړه څه نه دي ویلي.

دغه راز په قطر کې یوې بلې سرچینې هم له تېرې یوې اونۍ راهیسې د ګډې ناستې نه ترسره کېدل تایید کړل، خو په دې اړه یې نور معلومات نه دي ورکړي.

یوې بلې سرچینې بیا پژواک ته ویلي چې د طالبانو مرکچي پلاوي مشر عبدالحکیم حقاني او څو نور غړي یې دوحې ته د تېرې چهارشنبې په ورځ ور رسېدلي او ټاکل شوې وه چې د تېرې پنجشنبې په ورځ د دواړو لورو ترمنځ ناسته شوې وای، خو ونه شوه، بیا شنبې د ناستې پلان و، خو ترسره نه شوه، دغه راز پرون هم په پلان کې وه، چې ناسته وشي، خو ونه شوه. سرچینې ویلي چې دوی نه پوهېږي چې ولې دا ناستې ځنډېږي.

# افغانستان؛

## د سړې جګړې قرباني

لیکنه: محمد یوسف صابر ساپی

**لومړۍ برخه:**

ایا د افغان په پاکه خاوره د وخت زبر ځواک شوروي اتحاد د پوځي یرغل دردناکه پېښه، چې ټول نړیوال سوسیالستي سیستم یې له بیخه لړزان او کاواکه کړ، د شوروي دولت لخوا د فارس خلیج نفتي زېرمو او د تودو اوبو سمندري بندرونو پر لوري د وړاندې تګ مخکې له مخکې تدوین شوی ستراتیژیکي پلان و او که د موجودې وضعې تر اغېز لاندې د شوروي دولتي مشرانو د عاجلې غوښتنې او پرېکړې محصول ؟ شوروي لښکرکشي د نړیوال سوسیالیستي او پانګوالي سیستمونو تر منځ د نړۍ د ویش پر سر د اوږدې سړې جګړې د ډګر له ډېرو نښتو څخه یوه نښته وه او که د مرکزي اسیا تر لاندې کولو ورووسته د سوېل پر لوري د روسانو نوبتي پراختیایي عملیات؟

ایا د پېړۍ داسې ستره غمناکه پېښه چې په افغانستان کې یې څو کمزورې واکمنۍ یو د بل پسې بدلې کړې او د بې شمېره افغانانو نابودۍ او بربادۍ باعث شوه، د افغاني سیاسي مشرانو د چټکو غوښتنو کار و او که د هغوی له واک څخه بهر پروسه؟ په ساده ژبه، افغاني مشرانو د ځان ساتنې لپاره شوروي پوځونه خپل هیواد ته راوغوښتل او که شوروي ځواکونه د خپلو موخو لپاره په خپله اراده او زور افغانستان ته ننوتل؟

په عام فلسفي مفهوم، ایا دا ډول سترې نړیوالې ټولنیزې پېښې د سیاسیونو په واک او اداره کې وي او که د هغوی له واکه بهر د ټاکلو عیني شرایطو او قانونمندیو تابع وې؟ ایا چارواکي دا ډول ټولنیزې پېښې پلان کوي او که د عیني ټولنیز بهیر ناګزیره پدیدو په توګه د روانو اوبو د بهیر په څېر په خپله جریان مومي او نور ټول له ځان سره وړاندې بیایي؟

دا ډول پوښتنو ته د ځواب په لټه، د پېښې پس‌منظر ته ځو او په هغه وخت کې نړیواله وضعه (د پېښې باندینۍ زمینې په څېر) ګورو:

پر افغانستان باندې د شوروي تېري پر وړاندې د وخت نړیواله وضعه په یو لنډ عبارت کې پیژندل شوې ده: سړه جګړه. په دغه لنډ عبارت کې د میلیونونو انسانانو په تېره بیا د بې شمېره افغانانو د برخلیک غمېزې پرتې دي.

هغه خونړۍ جګړه چې افغانستان ته د شوروي پوځونو له راننوتلو سره پیل شوه او دا دې څلورمه لسیزه کیږي، چې لمبې یې لا پورته کیږي، ریښې یې لا څو لسیزې مخکې له دې پیل څخه په نړیواله وضعه او د هیواد په نننې حالت کې غځېدلې پرتې وې او د سون توکي یې مخکې له مخکې چمتو شوي وو. د شوروي اتحاد په مشرۍ د نړیوال سوسیالیستي سیستم او د امریکا متحده ایالاتو په مشرۍ د لوېدیځ پانګوالي سیستم تر منځ د نړۍ د ویش پر سر دښمني او سیالي، چې د سړې جګړې په نامه یاده شوې ده، پر افغاني جګړې سربېره ډېرې نورې خونړۍ جګړې هم زېږولې دي. دا دې ښکاري چې دا خونړۍ پېښې او د پېښو عاملین د عامو خلکو له حافظې څخه پناه کیږي او د تاریخ د تیارو تل ته کښته کیږي او ګنې د همدغو انساني غمیزو جنایتکاران د تاریخ له محاکمې پرته، نوو ناتاړونو ته متېې بد وهي.

د سړې جګړې علتونه د افغاني جګړې عام لاملونه هم دي. سړه جګړه د عصر د تاریخ خورا ستره برخه ده. دا دې ټولې نړۍ د څلور-څلورنیمو لسیزو برخلیک دی. د بشر تاریخ دې دا ډول اوږدې او نامخامخې جګړې ساری نه لري. د تاریخ په اوږدو کې د لومړي ځل لپاره نړۍ پر دوو نړیوالو متخاصمو سیستمونو ویشل شوې وه. د نړۍ په ګوټ ګوټ کې شخړې، نښتې او وژنې د همدې دښمنیو محصول په توګه روانې وې. افغانستان ته شوروي لښکرې هم د همدغو سیالیو او دښمنیو په لړ کې رانښوتلې. د سړې جګړې د علتونو توضیح پر افغانستان باندې د شوروي تېري بهرني لاملونه هم روښانه کوي. د سړې جګړې په پیل، بهیر او پایلو کې د افغانستان د جګړې پیل، بهیر او پایلې لیدلی شو. د سوسیالیستي او پانګوالي نه پخلاکیدونکو سیستمونو تر منځ د دښمنیو له تشریحاتو پرته، د شوروي لښکرکشیو رښتینې او درسته توضیح امکان نه لري. مجرد او ځانګړی انځور یې نیمګړی او نادرست پاتې کیږي. د شوروي تیري د عیني لاملونو په لټه د سړې جګړې په پل ګام په ګام وړاندې ځو، ګورو چې افغاني غمیزه هم د سړې جګړې د عاملینو تخلیق ده.

د سړې جګړې پیل له دویمې نړیوالې جګړې وروسته، په ۱۳۲۶ کال کې د امریکا متحده ایالاتو د ولسمشر ترومن د دکترینو(نظریې) له اعلان څخه ګڼل کیږي. د ترومن دکترینو زړی دا و، چې متحده ایالات له ټولو هغو ملتونو سره چې غواړي د لږکیو او یا د باندینیو فشارونو په مقابل کې مبارزه وکړي، هر ډول ملاتړ او مرستې ته چمتو دي. دا په حقیقت کې د شوروي ضد سیاست غوره کولو اعلان و. ګنې په ایران، ترکیه او یونان کې د حالاتو انکشافات د دې باعث شول، چې متحده ایالات د شوروي ضد سیاست غوره کړي. هلته د شوروي اتحاد په ملاتړ کمونیستي خوځښتونه ډېر فعال وو او مخ پر وړاندې تلل، نو ځکه متحده ایالاتو غوښتل په هر ډول، چې کیږي د دې حرکتونو مخه باید ونیسي. د ترومن دکترینو تر ټولو غوره انګیزه د ایران بحران و.

د سړې جګړې پیل د ایران د نفتو پر سر راغی، چې وګورو سړه جګړه زموږ په ګاونډې ایران کې د نفتو پر سر پیل شوې او وروسته یې بیا ټوله نړۍ په غېږ کې رانیولې ده. د شلمې پېړۍ له لومړیو کلونو څخه تېلو د صنعتي هیوادونو په رګونو کې لاره کړې وه. پرته له نفتو یې نور ژوند او پرمختګ نه شو کولی. د د ویمې نړیوالې جګړې لا دمخه د سترو صنعتي هیوادونو ورمېرونه د کسپین سمندرګي د نفتو زېرمو ته کاږه شوي وو. شوروي اتحاد، د امریکا متحده ایالتونو، انګلستان او المان خپل ژوند او ځواک په دې «تورو زرو» کې لیدل. شوروي اتحاد له ۱۳۱۵ کال راپدېخوا المان ته د تیلو استول بند کړل. انګلستان ته د المان او شوروي اتحاد په جنګ اچولو ښه بهانه په لاس ورغله. همدا کار د شوروي په ضد د المان د جګړې غوره لامل شو. انګلستان هڅه کوله چې المان د شوروي پر ضد ولوبوي، په دې موخه چې دواړه په وینو کې ډوب او کمزوري شي.

د ۱۳۲۰ کال په جون کې المان د (بارباروسه) عملیاتو په نامه، پر شوروي اتحاد باندې برید وکړ. د هټلر لویه موخه دا وه چې د کسپین بحیرې د شاوخوا نفتي زېرمې تر خپل کنټرول لاندې راولي .

له دې سره د انګلستان او شوروي اتحاد اړیکې هم بدلې شوې. دواړو دولتونو د هټلر له ګواښ څخه د ایران نفتي زېرمو ساتلو په موخه پرېکړه وکړه، څو هغه هیواد اشغال کړي. سره له دې چې ایران هم د افغانستان په څېر په نړیواله جګړه کې خپل ناپیلتوب اعلان کړی و، اما رضاشاه پهلوي او د هیواد خلک یې المان ته خوشبینه وو. همدغه د انګلسانو د تلپاتې وېرې دلیل و. کیدای شو د ابادان د تیلو د استخراج کارخونه چې د انګلیس- ایران نفتي کمپنۍ AIOC نننۍ BP په لاس کې وه، د المانیانو لاس ته ورشي. نوموړې کارخونه په ۱۳۲۹ کال کې اته میلیونه ټنه نفت راویستلي وو. د متفقینو له نظره، دغه نفتي زېرمې د جګړې د پیل لپاره خورا اغیزناک او غوڅ رول درلود. د شوروي اتحاد لپاره هم ایران غوره ستراتیژیکي ارزښت درلود.

د جګړې په پیل کې د المان ځواکونه د شوروي اتحاد په خاوره کې په زغرده مخ پر وړاندې تلل. شوروي اتحاد ته امریکایي اکمالات د شمالي سمندر له لارې د یخک او المانی ځواکونو د موجودیت له کبله ګران کار و. د دې لپاره د ایران د ترانزیټ ریل لاره ډېره مساعده او د فارس خلیج اکمالاتي لار غوره وه .

برېتانیا او شوروي اتحاد د ایران دولت او رضاشاه تر فشار لاندې راوستل. دلته په تهران کې خلک د المان په پلوۍ لاریون ته راووتل. له دې سره د برېتانیا او شوروي سفیرانو له رضاشاه څخه وغوښتل، چې ټول الماني اتباع له ایران څخه وباسي. رضاشاه دا غوښتنه رد کړه. دا وخت د ایران په صنعتي پروژو کې نږدې ۵۰۰ المانیان پر کار ر بوخت وو، په داسې حال کې چې د ایران د سوېل په نفتي موسسو کې نږدې ۳۰۰۰ انګلسانو کار کاوه.

د ایران ستراتیژیکي ارزښت او له متفقینو سره د رضاشاه د نه همکارۍ له کبله، انګلیس او شوروي د ۱۹۴۱ کال د اګست په ۲۵مه د جګړې له اعلان پرته د ایران په پوځي اشغال لاس پورې کړ. ایراني جزوتامونه له جګړه ییز چمتووالي سره سره، په خپلو کاغوشونو کې بیده وو، چې سهار وختي د انګلیس ځواکونو پرې برید وکړ. دغو عملیاتو چې د همغږۍ په نامه سرته ورسیدل، دوه غوره موخې درلودې:

**- تر خپل کنټرول لاندې د ایران د نفتي ډګرونو ساتنه؛**

- له فارس لارې شوروي اتحاد ته د امریکایي اکمالاتو د رسېدو تامین.

په دې توګه ایران د سوېل لخوا د برېتانوي پوځ او د شمال لخوا د شوروي پوځ په واسطه ډېر ژر اشغال شو. د جګړې تلفات څو ایراني بېړۍ او شپږ سوه ایرانیان وو. په دې ډول، لکه څنګه چې یو متل دی: «ګیدړې ته یې خپل پوستکی غم دی» ایران د خپلو تیلو پر سر د دوو پوځي ځواکونو لخوا اشغال شو.

دلته په څرګنده توګه وینو، چې ایران هم د افغانستان له اشغال څخه ۳۸کاله دمخه، د زبرځواکونو تر منځ د همدغه ډول سیالیو او دښمنیو په ترڅ کې اشغال شوی دی. نور ورته والی هم شته دی.

د نړیوالې جګړې په پای کې د پوتسدام کنفرانس له پرېکړو سره سم، باندني پوځي ځواکونه باید د ایران له خاورې څخه وتلي وای، اما په (۱۹۴۵-۱۹۴۶) مو کلونو کې د ایران د کردانو او اذریانو جلاغوښتونکو تحریک د شوروي په مخامخ ملاتړ غښتلی شو. د ۱۹۴۵ کال په ډسمبر کې یې د جعفر پیشوري په مشرۍ د اذربایجان خود مختاره حکومت اعلان کړ. د پیشوري (دیموکراټیک ګوند) د دولتي ادارو په جوړولو لاس پورې کړ. د ۱۹۴۶ کال په جنوري کې د کوردانو (مهاباد جمهوریت) تاسیس شو. په دې کې د ستالین موخه دا وه چې د ایران د شمالي سیمو نفت د شوروي تر دایمي کنټرول لاندې وساتي. د ایران د پوځي استخباراتو د اسنادو پر بنسټ، شوروي اتحاد پلان درلود چې د تودې ګوند په پیاوړي کولو سره په تهران کې هم شوروي پلوه واکمنی رامنځته کړي او په دې توګه د شوروي ځواکونو لپاره په ایران کې د دایمي پاتې کیدو زمینه برابره کړي.

همدغه مسئله د امریکا متحده ایالاتو او شوروي اتحاد تر منځ د ملګرو ملتونو د امنیت په شورا کې، چې نوې جوړه شوې وه، د لومړي ځل لپاره د شخړې موضوع وګرځیدله. د امریکا ولسمشر ترومن شوروي دولت په جګړې ان د اتومي وسلو په کارولو سره وګواښه، چې باید خپل پوځونه د ایران له خاورې څخه وباسي. شوروي له دې ګواښ وروسته خپل هوډ بد ل کړ.

همدغه مسئله د ترومن د دکترینو د اعلان انګیزه وګرځیدله. د ترومن د دکترینو پر بنسټ، د امریکا متحده ایالاتو کمونیستي ضد او شوروي ضد لاره غوره کړه. سره له دې چې اوس د امریکا دفاع وزارت د ۵۰مو کلونو له پټو اسنادو څخه څرګندیږي، چې متحده ایالاتو پخوا له دې هم غوښتل چې ټوله اروپا تر خپل نفوذ لاندې راولي او د وسلو د سیالۍ له لارې شوروي اتحاد بې ثباته کړي.

دا چې ولې متحده ایالاتو شوروي اتحاد د ایران د تیلو پر سر په اتومي وسلو وګواښه، شخړه بیا هم د «ګیدړې په پوستکي» وه. د ترومن لپاره دا خورا جدي مسئله وه چې د ایران د تیلو پر زېرمو باندې د شوروي ولکه په نړۍ کې د واک بېلانس بدلوي او د لوېدیځو هیوادونو اقتصاد ته ډېر زیان رسوي. په دې توګه، د ترومن دکترین د شوروي نفوذ د مخنیوي لپاره، د ایران د تیلو پر سر د سړې جګړې پیل ګڼل کیږي.

له دې وروسته سړه جګړه ورو ورو ګرمېدله او په (۱۹۴۸- ۱۹۴۹)مو کلونو کې د برلین په کلابندۍ سره د لومړي ځل لپاره د تودې جګړې پولو ته نږدې شوه.

دوه قطبي نړۍ: د ترومن له دکترینو سره سم متحده ایالاتو په اروپایي هیوادونو کې د کمونیستي غورځنګونو د مخنیوي او تر خپل کنټرول لاندې د اروپایي اقتصاد راوستنې لپاره د کنډواله شوي اروپا د بیا جوړونې مارشال پلان طرحه کړ. مارشال پلان د شوروي اتحاد په ګډون له ټولو اروپایي دولتونو څخه غوښتل، چې د اروپا په بیارغاونه کې ونډه واخلي. خو په دې هکله په پاریس کې خبرو کومه نتیجه ورنه کړه، ځکه چې امریکا مخکې له مخکې د دې لپاره سیاسي او اقتصادي شرطونه وضع کړي وو، چې شوروي اتحاد ته په خپل پلان شوي اقتصاد سره د منلو وړ نه و. له وران شوو اروپایي هیوادونو سره د متحده ایالاتو د مرستې سیاسي شرط دا و، چې کمونیستانو ته به په حکومتونو کې ونډه نه ورکوي.

د شوروي تر واک لاندې د ختیځې اروپا دولتونو د امریکا مرستې رد کړې، په دې توګه په اقتصادي لحاظ په شوروي اتحاد پورې نږدې تړلې پاتې شول.

د ۱۹۴۸ کال د جون په ۲۰مه لوېدیځو متحدینو د شوروي له نظر پرته په لوېدیځ کې برلین او د دوی تر واک لاندې المان کې پولي ریفورم، چې امریکایي ډالر پکې رسمي پولي واحد و، سرته ورساوه. شوروي اتحاد دا کار د پوتسدام تړون (چې باید د المان سیاسي او اقتصادي یووالی وساتل شي) د لغوه کیدو په مانا وګاڼه او د ۱۹۴۸ کال د جون په ۲۴مه یې د برلین په محاصره چې د برلین د لوېدیځې برخې بشپړه اقتصادي او تجارتي کلابندي وه، لاس پورې کړ. دا د برلین لوېدیځې برخې ته د خوراکي توکو او سون توکو بشپړ بندیز و. له دې لارې شوروي غوښتل چې لوېدیځ برلین هم تر خپل کنټرول لاندې راولي، که نه لږ تر لږه لوېدیځ ځواکونه سیاسي شاتګ ته اړ کړي. لوېدیځو دولتونو دغه کلابندي د هوایي پل په جوړولو سره خنثی کړه. دا د سړې جګړې لومړنی حاد حالت و. لدې سره لوېدیځ دولتونه په دې سوچ کې شول، چې شوروي اتحاد رښتیا هم پراختیایي موخې لري. په ۱۹۴۹ کال دریو لوېدیځو ځواکونو د المان اتحادي جمهوریت په جوړېدو موافقه وکړه او د ناټو پوځي تړون یې جوړ کړ. شوروي اتحاد بیا د المان ډیموکراټیک جمهوریت جوړ کړ. له دې سره د المان او اروپا ویش تر سره شو او دوه قطبي نړۍ ټینګه شوه.

له دې سره سره چې د المان ډموکراټیک جمهوریت او اتحادي المان په دوو متضادو سیاسي، اقتصادي او پوځي سیستمونو کې ځای درلود، خو د سړې جګړې په څلورو لسیزو کې یې خپلمنځي ټینګې سوداګریزې اړیکې درلودلې. دغو دننیو سوداګریزو اړیکو له متضادو ایډیالوژیو سره سره په ویشلي المان کې د ډېرو تماسونو، شرکتونو او داسې نورو اړیکو امکانات رامنځته کول. نوموړو دننیو سوداګریزو اړیکو د الماني دولتونو ترمنځ پر سیاسي فضا باندې هم مثبت اغېز ښینده. برخلاف ، په ویشلې کوریا کې تر ننه پورې دا ډول اړیکې وجود نه لري. نن بیا زموږ د سترګو پر وړاندې پاکستان د امریکا په لګښت د لر او بر پښتنو تر منځ د اړیکو پرېکولو لپاره د تروریزم د مخنیوي په نامه د ډیورنډ پر کرښه اغزن سیم وغځاوه. د افغان ګوډاګي حکومت او لرې پښتونخوا زیاتره بګیل شوي او پلورل شوي سیاستوال ورته ټپې ټپې ګوري او ان ورسره همکاري هم کوي او له دې درک څخه عاجز دي، چې د لر او بر افغانانو تر منځ یوازې د سوداګریزو اړیکو موجودیت، تګ او راتګ پر نورو ټولو اړیکو مثبت اغېز ښندي، د المان په څېر بیا یووالي ته یې شرایط برابرولی شوی.

**دوام لري...**


## د کتاب خبرې

# د جاسوسی پېښلړ RAW, ISI او د سولې وهم

◎ لیکوالان: اې. اېس دولت، اسددوراني او ادیتیا سېنها
◎ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

### څلورمه برخه

کابوکي




دولت: ښاغلیه! تاسو د کارګیل د لوړو څوکو خبره کوئ، دا دي څه شی؟ د ده سیاچین ته پام نه و؟
دوراني: سیاچین ته راځم. دې غبرګون ته به ولا چې ګوته په غاښ شوی وي. دی خپله هم دا مني چې دا غبرګون یې په زړه کې نه و ور ګرځېدلی.
دولت: کوم غبرګون؟
دوراني: نورې نړۍ د ده د نا مسئولانه کړنې پر وړاندې څنګه غبرګون ښود؟
ښايي د هند د توند غبرګون اټکل هم نه و کړی.یو څو تنه د دې پلان پر راز خبر وو. نواز شریف پر ټول پلان خبر نه و، لږ معلومات یې درلودل. خو اجازه یې ورته کړې وه؛ ځکه سیاسي مسئولیت د ده پر غاړه و. زه دی ډېر نه ملامتوم، دی د پلان پر ټولو جزئیاتو خبر نه و، ښايي ده فکر کړی و چې یوه وړه سیمه به بېرته نیول کېږي.
د سیاچین په تړاو له کاره وروسته فکر وشو. له ده چې پوښتنه وشوه چې دا کار یې ولې وکړ؟ د ده ځواب دا و چې که موږ داسې نه وای کړي، نو هندیانو به پر یوه بل سیاچین لاس پورې کړی و. په ۱۹۸۴ کې هندیانو د سیاچین پر یخچالونو ولکه وکړه، خو موږ بلې لارې ته کتل. د مشرف له قوله هندیانو د نور وړاندې تګ پلانونه جوړول او ځکه پرې ده وار لومړی کړ pre-empted.
د سیاچین پر حرکت ستاسې یوه جنرال د تایید مهر وهلی و، دغه جنرال «چیبېر» و او په ۲۰۰۰ کال کې اسلاماباد ته راغلی و. ده وویل: «تاسو پاکستانیان د سیاچین د نیولو پلانونه جوړوی، خو زه تر تاسې وړاندې هلته تللی یم.»
دولت: ده هغه څه ویلي چې دغه مهال بیا وشول.
دوراني: ما د مشرف منطق نه مانه. ما په تېروتنه تر اټومي کېدو وروسته نوی حالت د ده له پخوانیو هڅو سره تاړه.
دولت: تا مخکې وویل چې نوازشریف یو لوده انسان دی او باید واشنګټن ته نه وای تللی. هغه ته بله لاره پاتې نه وه. له واشنګټنه پرې امر شوی و.
دوراني: یوه پخواني ملګري له نویو پرمختګونو خبرولم. زه تقاعد شوی وم، په راولپنډۍ کې اوسېدم. دفاع وزارت هم هلته دی. افتخار علي خان د دفاع وزیر و. زه چې د «ملي پرمختګ اداري» قوماندان وم، دی له ما سره مامور و. اوس ده هم له نړۍ سترګې پټې کړې دي. ما چې به کله هم ورته زنګ وواهه، افتخار به ځان را ته وزګاراوه، ده به ویل، راشه چې بحث سره وکړو.
ته خو وایې چې پاکستان ته بله لاره پاتې نه وه، خو موږ ډېرې لارې درلودې.یوه لاره دا وه چې موږ ویلي وای؛ د دوی شتون د اصولو خلاف دی، دوی پر ځمکه نشته؛ نو باید لوړې څوکې هم پرېږدي. موږ له چین سره هم خبرې کولې، دوی ویل: «تاسو لکه چې موږ خپل ملګري نه بولی، خپله خبره مو کړې، په شا کېږی مه.»
بیا نو واجپای، نواز شریف ته ټیلیفون کړی و، ویلي یې وو: « کیا کر رہے ہو بھائی؟» مطلب چې وروره دا څه کوې؟ زه د موقت حکومت مشري کوم، مخې ته مې انتخابات پراته دي. خپل پوځیان ولې نه وباسې.»
ده به ورته په ځواب کې ویلي: «اچھا آپ کہتے ہو تو لے جاتا ہوں، ورنہ پتا نہیں ہمنے آپکو کیا کر لینا تھا.» مانا دا چې ته وایې نو سمه ده، ګنې خدا زده څه به مو درسره کړي وو».
تر ټولو بده لاره دا وه چې د جولای پر څلورمه لاړ شې او ورته ووایې: « میری جان چھوړو.» مانا دا چې «ما پرېږدئ» کلنټن د جګړې په وروستیو شپو کې ورته ویلي وو چې د کارګېل له لوړو څوکو شاتګ وکړي، که د میا صېب د ښېښې له غوښتو نه مطلب دا و چې که له پوځ سره ښکر پر ښکر شي، نو د امریکا ولسمشر به یې وساتي؛ نو ده خوشې ځان تېر ایسته.
نواز شریف لا په واشنګټن ډي سي کې و، ما له مشرف سره ولیدل. ده ته مې وویل: « ٹھیک ہے، جانے کی کیا ضرورت تھی؟» مطلب سمه ده، خو واشنګټن ته د تللو څه حاجت و؟ مشرف غلی و، ښايي لا له وړاندې پرې فشار راغلی و.
سېنها: د کارګېل جګړې په اوږدو کې حکومت د مشرف او جنرال عزیز ترمنځ شوې ټیلیفوني خبرې خپرې کړې. دغه خبرې «RAW» (د هند استخباراتي اداري) ثبت کړې وې. د یوه مسلکي کس په حیث، د یوه پخواني سرتېري په حیث ستا غبرګون څه و؟
دوراني: په هند کې ستاسې جګپوړي استازي (High Commissioner) ما ته د ثبت شویو خبرو کاپیانې او لیکلې بڼه یې را واستولې، په اورېدو یې حیران نه شوم.
دولت: که ته د «RAW» رئیس وای او دغه کاپیانې در رسېدلې وای، نو څه به دې ورسره کول؟
سېنها: هندیانو ستاسې د لوی درستیز ټیلیفوني مکالمې ثبتولې، ته یې ګوته په غاښ نه کړې!؟

**دوام لري...**

# ټویټر

حشمت الله نوري

ټویټر یوه ټولنیزه شبکه ده. دا شبکه کاروونکي ته اجازه ورکوي، چې ۱۴۰ توري لکیل وکړي. هغه پیغام چې کاروونکی یې پر خپل ټویټر لیکي، په انګلیسي کې ټویټ ورته وایي. ټویټر د ۲۰۰۶ کال په مارچ کې د جک دورسي لخوا جوړ شوی او د همدې کال په جون کې یې کار پیل کړ. دغه کوچنی بلاګ دمګړۍ تر ۳۱۵ میلیونه ډېر فعال کاروونکي لري. په ورځ کې ۳۴۰ میلیونه ټویټونه د ټویټر پر پاڼه خپرېږي. تر ۱،٦ میلیارده پورې لټونې پکې کېږي. ټویټر په لومړي سر کې یو شعار درلود: «څه کار کوی؟» خو وروسته دا شعار پر «څه کېږي؟» واوښت. د ټویټر یوه ځانګړنه د لیکلو محدودیت دی، تاسې کولی شی یوازې او یوازې ۱۴۰ کلیمې ټویټ وکړی. پر ټویټر د لیکنو تر څنګ، ویډیوګانې، انځورونه او لنډ انمېشنونه هم خپرولی شی.
د ټویټر کلمه له ټویټ څخه اخستل شوې چې د کوچنیو مرغانو د اواز په مانا ده. دا هم یوه ټولنیزه شبکه ده چې د همدې کمپنۍ له لوري پرمخ وړل کېږي. دا شبکه د جک دورسي نوح کلاس بیز سټون او ایون ویلیمز لخوا د ۲۰۰٦ کال د مارچ په ۲۱مه جوړ شو، خو د جولای په ۱۵مه یې فعالیت پیل کړ. دا شبکه اوسمهال په ټوله نړۍ کې تر ۵۰۰ میلیون زیات کاروونکي لري او دا له هغه څخه ۲۷۱ میلیون فعاله کاروونکي دي، چې له فېسبوک څخه وروسته په دویمه درجه کې راځي. خو له فېسبوک څخه دومره توپیر لري چې په فېسبوک کې ورته پوسټ وایي، چې څومره وغواړی هومره لیکنه کولای شو او په ټویټر کې ورته ټویټ وایي چې یوازې د ۱۴۰ حرفونو په اندازه لیکنه پکې کېږي. د یوې څېړنې له مخې، هره ورځ په دغه شبکه کې خلک د ۳۴۰ میلیونو په شاوخواکې ټویټونه کوي. له ټویټر څخه زیاتره وخت هغه کسان کار اخلي چې ډېر مشهوره وي او یا زیات ملګري ولري. په ټویټر کې څوک مجبوره نه دي چې یو بل کس د ځان ملګري کړي څو د هغه لیکنې وګوري، فقط هغه شخص دې فالو کړي او د هغه ټولې لیکنې به لیدل کېږي. هغه مشهوره کسان چې غواړي خپلو مینه والو ته د ځان په اړه څه ولیکي، نو له همدې شبکې څخه کار اخلي، هغه که یو فلمي ستوری وي او که یوه سیاسي څېره.
د ټویټر مرکزي څانګه په سانفرانسیسکو کې ده. په بوستون، نیویارک او سن آنتونیو کې هم استازولی لري. ټویټر د لسو غوره وېبسایټونو په کتار کې اتم ځای لري. ټویټر په لومړي سر کې یوه پروژه وه چې د اوبیویس له لوري جوړه شوه. لومړنۍ نسخه یې د یوه داخلي سرویس په توګه د اوډې او لخوا وکارول شوه او مکمله نسخه یې د ۲۰۰٦ کال د جون په ۱۵مه معرفي شوه، خو د ۲۰۰٦ کال په اکتوبر کې د ټولو په اختیار کې ورکړل شوه. دغه شبکه ډېره ژر د خلکو د پام وړ وګرځېده، تر دې چې د ۲۰۰۷ کال په مارچ کې یې د اوارډرز په جشنواره کې د غوره ویبسایټ جایزه خپله کړه.
دغه شرکت په لومړي سر کې په کالفورنیا کې ثبت شوی دی. دفترونه یې د نړۍ په نور برخو کې هم شته دي. ځینې سرورونه یې په سن انتونیو او بوستون کې هم شته. تاسې کولی شی په ټویټر کې وړیا ثبت‌نام وکړئ. تاسې له بېلو لارو کولی شی خپل ټویټر ته لیکنې ورزیاتې کړئ. تر ډېره یې خلک په موبایل کې کاروي چې ګټور دی او خلک کولی شي خوند ترې واخلي. تاسې په ټویټر کې کولی شی تر ډېره هغه مطالب واچوی چې ستاسې په شاوخوا کې تېرېږي. کېدای شي تاسې متاثر کړي او یوه ټویټ ته مو اړ کړي. ټویټر او د معلوماتو ځای پر ځای کول کولی شي په نړۍ کې مثبت تاثیر پرېږدي.
د ټویټر کاروونکي ورځ تر بلې ډېرېدل، دوی هم خپل کارونه په ښه توګه مخ ته وړل. هڅه یې کوله چې د خپلو کاروونکو او مشتریانو رضایت خپل کړي. په ۲۰۱۱ کال کې یې د ټولو کاروونکو شمېر تر ۲۰۰ میلیونو واوښت. هره ورځ تر ۲۰۰ میلیونو ټویټرونه هم وربانديې کېدل. دا عدد په یوه ورځ کې پوره ۸۱٦۳ ټوکه د جګړې او سولې له ناول سره برابر و. که تاسې غواړی چې د یوې ورځې ټول ټویټونه ولولی، نو ۳۱ کاله وخت نیسي. که دا ټول ټویټونه کتاب شي البته د یوې ورځې ټویټونه، نو ۱۴۷۰ فوټه کېږي چې د یوه لوړ برجه په اندازه به لوړ وي. په لومړي وخت کې دومره ټویټونه نه کېدل. د ۲۰۰۷ کال په لومړیو دریو میاشتو کې ۴ سوه زره کسانو ټویټ کړی و. ټویټر ډېره سریع وده تجربه کړه. یو کال وروسته یې هره ورځ پر پاڼه پاندې ۱۰۰ میلیونه ټویټونه کېدل. اوس په هره ثانیه کې د ټویټر کاروونکي لږ تر لږه ۷۵۰ ټویټونه استوي.
د وروستیو شمېرو له مخې، دمګړۍ ټویټر هره ورځ یوازې ۳۱۷ میلیونه فعال کاروونکي لري. یوه په زړه پورې خبر خو دا ده چې که ټویټر وغواړي چې له خپلو کاروونکو یو هېواد جوړ کړي، نو شایي د وګړو شمېر یې تر ۵۰۰ میلیونو واوړي. د ټویوټر ۹۰ سلنه کاروونکي هره ورځ لږ تر لږه یو ټویټ کوي.
د دغه ټولنیزې شبکې بنسټګر ولیامز بیز استون او جک دورسي دی. لومړنی ټویټ په ټویټر کې جک دورسي د ۲۰۰٦ کال د مارچ په ۲۱مه په ۹:۵۰ دقیقو کړی دی.
ټویټر ستاسې په خوښه ستاسې اکونټ له منځه وړلی هم شي. هغه ستاسې له اکونټ سره سم ستاسې ټول مواد هم له منځه وړي. ټویټر خپلو کاروونکو ته دا وړتیا ورکوي چې خپله پاڼه په خپله خوښه ډیزاین کړي. د ډیزاین برخې ته ورشئ او څنګه مو چې زړه وي، د خپل ټویټر پاڼه ډیزاین کړئ.
کله چې په ۲۰۰٦ کال کې ټویټر جوړ شو، نو ځینو خلکو یې د امنیت په اړه اندېښنه لرله. مایکل ارنګتون، وویل، ټویټر یې خوښ شو، خو دا چې زما ملګري یا څارونکي ټول ویني، نو په اړه یې د نا امنۍ احساس کوم. د ټویټر ټول پوسټونه عمومي دي، خو کاروونکی کولی شي هغه خصوصي یا ځانګړي کړي. ټویټر د خپلو کاروونکو امنیت ته خاص ارزښت ورکوي، خو هغه معلومات د ټویټر له نورو کاروونکو نه پټوي چې د ټویټر په نظر مهم او اړین دي. ټویټر د امنیت له نظره تر ډېره خوندي دی، خو که هغه سپارښتنې عملي کړئ چې ټویټر یې درته وایي.
هغه څه چې ټویټر یې ځانګړی کړی دی، دا دي چې ټویټر په خبري برخه کې پوره اغېز لري. ډېری خبریالان، چارواکي او د چارواکوو ویاندویان په دغه پاڼه کې اکونټونه لري او کوښښ کوي چې شېبه په شېبه معلومات له خلکو سره شریک کړي. ډېری خبریالان هم له ټویټر مطلب را اخلي او خپروي یې، ویلی شو چې ټویټر د نړۍ تر ټولو چټکه خبر رسوونکې شبکه ده. ټویټر وایي، په دې برخه به هم کار کوي چې څنګه د خبریالانو لپاره ځینې ځانګړې اسانتیاوې رامنځ ته کړي او په وینا یې دې برخې ته به د خبر اطاق نوم ورکوي.
په فضا کې هم ټویټر کارول کېږي. د ټویټر لومړنی پیغام چې له فضا راغلی، هغه تی جی کریمر را استولی دی، هغه د ۲۰۱۰ کال د جون په ۲۲ مه له فضا یو ټویټ وکړ. ناسا شرکت هم پر ټویټر ډېره تکیه کوي او په دې شبکه کې ډېر فعال دي. دوی په دې برخه کې ځان ته ځانګړې امکانات برابر کړي دي او همدا راز یې خپلو کاروونکو ته ځانګړې اپلکشنونه جوړ کړي دي، څو وکړی شي هر څه په سمه توګه تر سره او په وخت معلومات له کاروونکو سره شریک کړی شي.
پر ټویټر خطرناکه پانګونه وشوه، پر دغه ټولنیزه شبکه لا هومره باور نه و شوی، خو شریکانو دا خطر په ځان ومانه او پر هغه یې ۵۷ میلیونه ډالره پانګونه وکړه. د دغه مبلغ کره شمېرې د ځینو ملحوضاتو له امله نه دي خپرې شوې. په لومړي سر کې پر ټویټر له ۱ تر ۵ میلیونه پانګونه شوې وه. په دویم پړاو کې بیا پانګونه وربانديې وشوه، دا ځل نو د پانګونې کچه ۲۲ میلیونو ډالرو ته رسېده او دا ۲۰۰۸ کال و. په ۲۰۰۹ کال کې د درېیم ځل لپاره پانګونه وربانديې وشوه چې اندازه یې ۵ میلیونو ډالرو ته رسېده.
ټویټر ورځ په ورځ وده کوله او په ۲۰۱۰ کال کې یې د شرکتونو د تبلیغ لپاره یوه طرحه وړاندې کړه. د هغه په وسیله شرکتونو کولی شوی چې د غوره ټویټونو د اخیستو له لارې خپل تبلیغات وکړي. څو ورځې وروسته ټویټر اعلان وکړ چې څو سترو شرکتونو په دې برخه کې د خپلو اعلاناتو د خپرولو وړاندیز کړی دی. په دې ډله کې سوني پیکچرز، ردبول، بست بای، او ستار باکس وو.
د ټویټر شریکانو د ۲۰۱۰ کال په سپرلي کې د اعلانونو خپرول پیل کړل، چې کلنی عاید یې ۴۵ میلیونو ډالرو ته لوړ شو. سره له دې چې ځینې زیانونه یې وکړل، خو کم وو، بیا هم د ۲۰۱۰ کال تر پایه د ۱۰۰ میلیونو ډالرو ګټې وړاندوینه شوې وه. دغه وړاندوینه په ۲۰۱۱ کال کې ۱۱۰ میلیونه ډالره اټکل شوې وه، په همدې توګه د ټویټر د شرکت قیمت له دومره ګټو وټو سره ۳،۵ بیلیونه ډالرو ته لوړ شو. ټویټر اعلانونه او سوداګریزې خبرتیاوې خپل کار وګرځاوه.
انترتینمنت ویکلي مجلې، ټویټر د لسیزې په لسو غوره وېبسایټونو کې راوستی دی. والستریت ژورنال ورځپاڼه بیا وایي، ټویټر نه یوازې خلکو ته ګټه رسولې ده؛ بلکې زیانونه یې هم ورته رسولي دي. د ورځپاڼې په باور، په لومړي سرک کې کاروونکو داسې فکر کاوه چې دا یې ملګرو ته د لاسرسي تر ټولو ښه لار ده، خو وروسته پوه شول چې پر ټویټر معتاد شوي دي. د ورځپاڼې د شنونکو په باور، دا چې خلک پر ټویټر معتاد شوی، یو علت یې دا دی چې هلته کمې کلمې لیکل کېږي، د خلکو زړه نه تنګوي او لوستل یې دومره ګران کار نه دی. نو ځکه خلک ډېره مینه ورسره لري، خو که دغه شمېره لوړه شي او ډېر کلمات پکې ځای شي، نو بیا به یې مینه وال راکم شي. ټویټر په ډېری هېوادونو کې د ستونزو سبب شوی دی. په ۲۰۱۱ کال کې انګلستان د کابینې غونډه را وغوښته او په هغه کې یې پرېکړه وکړه چې په هېواد کې د ټولنیزو رسنیو په تېره ټویټر کارونه محدوده شي. د دوی په باور، په هغه وخت کې راپورته شوي جنجالونه د همدې ټولنیزو شبکو له امله وو. په دې جلسه کې ټولنیزې شبکې د شوروشونو او لاریونونو اصلي لامل بلل شوې وې. په دې توګه نو پولیسو ته دا واک په لاس ورغی چې په موقته توګه په ځینو سیمو کې ټولنیزې رسنۍ بندې کړي. ټویټر اوس هم یوه فعاله او پرمختللې ټولنیزه شبکه ده چې له فیسبوک او نورو شبکو سره د رقابت لپاره ولاړه ده. اصلي مرکز یې په امریکا کې دی، خو په ځینو نورو هېوادونو کې یې هم سرورونه فعال دي. کلنۍ ګټه‌وټه یې تر ۲ میلیاردو ډالرو اوړي. زرګونه کسان کار ورسره کوي او اوسنی مدیر یې هم جک دی. هغه پر کاره سړی دی، هڅه او کوښښ کوي او وایي، یوازینی هدف مې دا دی چې د خلکو تر منځ اړیکې نږدې کړم او خلک له یو بل سره وساتم.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,۱ |
| € | ۹۳,۲ |
| Rp. | ٤۷۹ |
| ₹ | ۱۰٤۵ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۱۰۳,٦ |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

# تلاش هند برای ابر قدرت شدن در جهان

منبع: نیوز انترنشنل
نویسنده: راج گوپال
مترجم: سید جمال اخگر

هند دومین کشور پرجمعیت دنیا و بزرگ‌ترین دموکراسی جهان است و نزدیک به یک‌ششم جمعیت جهان را در درون خود جا داده است. تنوع تباری، فرهنگی، زبانی و مذهبی در این کشور، چشم‌اندازی نو از هم‌زیستی مسالمت‌آمیز میان اعتقادات و باورهای گوناگون بخشیده است. این امر در ذات خود باعث شده تا تمام پیروان ادیان، به‌صورت آزادانه و بدون دخالت و اهانت بر مقدسات همدیگر، فعالیت و زندگی کنند.

یک زمانی تصور می‌شد که بعد از شکست قطعی اتحاد جماهیر شوروی و پیروزی کامل ایالات‌متحده امریکا، داستان سیاست و امنیت دنیا تمام است و تمام جهان به‌سوی غرب و امریکا رجوع خواهد کرد. پرچم‌داران این نظریه فرانسیس فوکویاما و هانتینگتون بودند و اعتقاد داشتند که دنیا تک‌قطبی است و ایالات‌متحده امریکا هم سردمدار بی‌چون و چرای این رهبری است.

رفته‌رفته، اما پس از سال ۲۰۱۰، داستان عوض شد؛ رقیبان تازه‌نفس امریکا، از جایی که کمتر کسی فکرش را می‌کرد، از آسیا با رویاهای بلندپروازانه، به گونه‌ی برق‌آسایی ظهور کرد.

چین از نسل پنجم انترنت صحبت می‌کرد، هند هم برنامه‌های نوینی برای اقتصاد و نظام خود دست‌وپا می‌کرد و روسیه نیز جان تازه‌ای گرفته بود و خودش را وارد بازار مشغله‌های خاورمیانه کرد و بار دیگر سلاح‌هایش محبوب دل‌های فرماندهان شد؛ اما به‌راستی، چه شد که دیگر خبری از نظم نوین جهانی و پایان تمدن‌ها نیست؟

به‌نظر می‌رسد که جنگ‌های داخلی، برای هر کشوری درس‌های بزرگی داد. هند یکی از کشورهایی است که درگیری‌های زیادی در درون خاک خود و با همسایگان داشته است. این جنگ‌ها برای هند یک درس بزرگ داد و آن‌هم این‌که: هیچ اقدامی از هیچ‌کسی علیه هند بعید نیست.

این نوشتار، به کنکاش و واکاوی مسئله «هند و قدرتمند شدن»، با نگرشی پژوهشی داشته که تلاش می‌شود درشت‌ترین عامل‌های آن مورد بررسی قرار بگیرد.

هند چگونه به میان آمد؟

هندوستان کشوری در جنوب آسیا واقع شده است که بخش اعظمی از شبه‌قاره هند را شامل می‌شود و پایتخت آن دهلی‌نو است. هند از شمال غربی با پاکستان، از شمال با چین، بوتان و نیپال، از شمال شرقی با میانمار و بنگلادیش همسایه است.

هم‌چنان، این کشور از راه شرق با خلیج بنگال و از راه غرب با دریای عمان و از جنوب نیز با اقیانوس هند مرز آبی دارد.

کشور هندوستان در ۱۵ اکتوبر ۱۹۴۷ تأسیس شد و از انگلستان استقلال گرفت. مهاتما گاندی، این کشور را از چنگ بریتانیای کبیر بیرون کشید و بنیاد هند را طوری که انتظار می‌رفت گذاشت.

این اقدام گاندی تا جایی پیش رفت که بریتانیا مجبور شد مناطق هند را یک‌به‌یک به هند واگذار کند؛ اما دیری نپایید که بحث تشکیل یک کشور اسلامی به نام پاکستان، به رهبری محمدعلی جناح به میان آمد و اختلاف میان گاندی و جناح اوج گرفت.

درنهایت پاکستان نیز تشکیل شد؛ اما هند راه را برای پاکستان مبنی بر تشکیل پاکستان شرقی-بنگلادیش امروزی-بست و این اقدام برای پاکستان به‌مثابه یک رویا باقی ماند.

هند بزرگ‌ترین دموکراسی جهان

هند دومین کشور پرجمعیت دنیا و بزرگ‌ترین دموکراسی جهان است و نزدیک به یک‌ششم جمعیت جهان را در درون خود جا داده است. تنوع تباری، فرهنگی، زبانی و مذهبی در این کشور، چشم‌اندازی نو از هم‌زیستی مسالمت‌آمیز میان اعتقادات و باورهای گوناگون بخشیده است. این امر در ذات خود باعث شده تا تمام پیروان ادیان، به‌صورت آزادانه و بدون دخالت و اهانت بر مقدسات همدیگر، فعالیت و زندگی کنند.

با آن‌که زبان رسمی هند، بر مبنای قانون اساسی این کشور، هندی و انگلیسی شناخته شده؛ اما نزدیک به هزار زبان دیگر در هند رایج است که توسط ساکنان این کشور مورد گویش قرار می‌گیرد و استفاده می‌شود.

جنون رهبران هندی و شیرجه مرگ در میدان‌های جهانی

هند می‌دانیست که جهان دیر یا زود در توفانی از آشوب و هرج‌ومرج فرو می‌رود و تمام اصول اخلاقی و حقایق اعتقادی که برای قرن‌ها جنون پنهان رهبران را مهار می‌کرد، اکنون روبه‌زوال است. انسان‌ها حتی باسوادترین آن‌ها تبدیل به بمب‌های ساعتی‌ای می‌شوند که ممکن است هر لحظه و در هرجایی ناگهان منفجر شوند.

طبق فرضیه‌هایی که هندی‌ها پیش‌بینی می‌کنند، ممکن است حتا حوادث اخیر خاورمیانه و جنوب آسیا تا این‌جای کار نیز نوعی شیرجه به‌سوی مرگ باشد. شیرجه‌ای نظیر ظهور کرونا و انزوای قدرت‌های بزرگی که هند نیز از آن بی‌نصیب نماند.

هند و سندروم طمع ورود به سلطه‌گرایی

در قاره آسیا یک بازی ۴ نفره بین چین، هند، روسیه و ایالات‌متحده امریکا در جریان است. بازی‌ای به اسم دیپلوماسی نامتقارن که هر یک از این کشورها تلاش دارد جایگاه نوینی در عرصه جهانی برای خود تعریف کند.

این بازی به‌اندازه‌ای برای هند انگیزه داده که رفته‌رفته هند را به سمت استقلال رفتاری نسبت به امریکا و به‌دنبال آن نزدیکی به کشورهای مخالف امریکا هدایت کرده است.

مهم‌ترین عاملی که هند را باوجود دیپلوماسی تحریک‌کننده‌ی دشمن، بازهم مصون نگه داشته، سیاست مسالمت و تعامل بود است؛ سیاستی که در دوران شوروی پیشین نیز اتخاذ می‌شد و حالا هم کماکان دست‌نخورده باقی مانده و با شدت تمام ادامه دارد.

هدف نهایی هند چیست؟

رشد اقتصادی هند که از ابتدای دهه ۱۹۹۰ شروع شده بود، بعدها افزایش یافت. این کشور تبدیل به یک غول اقتصادی در جنوب آسیا و نزدیک به چین شد.

کشور هند، در بخش نظامی، در کنار دستیابی به سلاح هسته‌ای در زمان صدارت جواهرلعل نهرو، تلاش کرد تا یک ارتش بزرگ و مجهز آماده کند. این اقدام هند دو انگیزه داشت: یکی این‌که پاکستان تازه تشکیل یافته از دید هند یک کشور افراطی تمام‌عیار بود و در درجه دوم؛ چین از اتحاد هند با شوروی دل خوشی نداشت و بیم آن را داشت که مبادا هند با استفاده از عبور شوروی از افغانستان به‌سوی پاکستان، خود نیز در زیر فشار گرفتن پاکستان دست به‌کار شود؛ اما این حربه، با ورود امریکا ناکام شد و چین و پاکستان از چنگ هند نجات یافتند.

هند روابط گسترده اقتصادی، سیاسی و فرهنگی را با قدرت‌های جهانی از جمله امریکا، شوروی سابق و اتحادیه اروپا برقرار کرد و در بخش چهارم با پیگیری درخواست عضویت دایمی در شورای امنیت سازمان ملل، درصدد نقش‌آفرینی قابل‌توجه در سطح جهانی برآمد.

پیش‌بینی‌های پساکرونایی در مورد هند

در تازه‌ترین پیش‌بینی‌ها در سال ۲۰۲۱ تا کمتر از ده سال دیگر چین، امریکا و هند به ترتیب اقتصاد اول دوم و سوم خواهند بود.

نکته‌ی بسیار جالب این است که هند در عرصه اقتصاد، تمام کشورهای اتحادیه اروپا را پشت سر گذاشته است و این‌بار قدرت اول و سوم اقتصادی جهان، دوباره به قاره آسیا برمی گردد.

تحرکات اخیر قدرت‌های بزرگ آسیا نشان داد که تمام مسایل ارزشمند و بزرگ جهانی بازهم در همین قاره می‌ماند و ماندنی است. درواقع، این تحرکات قدرت‌های آسیا به شمول هند نشان داد که اروپا تا چه اندازه از این ناحیه آسیب‌پذیر است.

آیا قدرت هند برای غرب یک تهدید است؟

به‌نظر می‌رسد که قدرت‌یابی هند برای برقراری موازنه در آسیا در مقابل چین، برای امریکا قابل‌تحمل و پذیرش است.

هند در قسمت فناوری و سایبری کم‌کم فاصله‌اش با چین از بین می‌رود و این خواسته‌ی مشترک امریکا و هند است؛ چون از این رهگذر، امریکایی‌ها و هندی‌ها می‌توانند هر دو پیمان سایبری جدیدی باهم امضا کنند و ائتلاف سایبری در مقابل رقیبان‌شان تشکیل دهند.

ورود هند و تغییر در عناوین جغرافیای سیاسی جهان

با ورود هند به جمع قدرت‌های بزرگ جهانی، نقش قلمروهای جیواستراتیژیک قطب‌های جدید در سطح جهان دستخوش تغییر و بازتعریف خواهد شد؛ زیرا مفاهیم متعددی، نظیر جیواستراتیژیک و جیوپولتیک که قبلاً بین امریکا و روسیه تقسیم شده بود، این بار آهسته‌آهسته میان هند و چین تقسیم خواهد شد.

اکنون، از موارد یادشده چنان برمی‌آید که رفتار استقلال‌طلبانه از سایر قدرت‌های بزرگ و نیز سیاست تساهل و مدارا، دو عامل و ضامن بقای هند برای سالیان و قرن‌های متمادی است.

هند دریافته است که هرچقدر ارتش قدرتمندتری داشته باشد و به هر اندازه که رفتار و کنش این کشور مجزا از عملکرد دیگر قدرت‌ها باشد؛ به همان اندازه جایگاه و پرستیژ هند در سطح منطقه و جهان موردتوجه قرار خواهد گرفت.

از سوی دیگر، هند کشوری است که قلمرویش بر جغرافیایش به‌طور کامل منطبق است و از تمامی جهت‌ها، کشور غنی‌ای است. این کشور از الگوی دموکراسی در جهان گرفته تا ابراز سخت و نرم سیاسی و اطلاعاتی را دارا است و همواره بر تأمین روابط دوستانه و بازسازی کشورهای موردنظرش کرده است؛ اما از سوی دیگر ایالات‌متحده امریکا کم‌کم به این نتیجه می‌رسد که هند می‌تواند سردمدار صادقی برای جنوب آسیا باشد و از لحاظ سیاست خارجی جز یکی دو کشور، هیچ کشوری با هند مشکل و خصومتی ندارد.


پس نتیجه‌گیری ساده است: سالون پذیرایی قدرت‌های بزرگ جهانی، دیر یا زود منتظر ورود هند است. قدرت نوظهور جهانی که بیش از همه مدیون و مرهون به عملکرد مناسب این کشور در قالب نظام سلطه‌گرایی است.

# وېلسن: طالبان باید پوه شي چې په هدفي وژنو نړیوال را پارېږي

د امریکا شارژدافیر راس وېلسن په افغانستان کې د ترور او هدفي وژنو د بندولو غوښتنه کړې ده. نوموړي پرون په کابل کې په یو وسله وال برید کې د سترې محکمې د دوو ښځینه قاضیانو له وژلو وروسته دا خبره کړې ده.

وېلسن پر خپل ټویټر د دغو قاضیانو وژل غندلي او په دې اړه یې د سملاسي پلټنو غوښتنه کړې ده. که څه هم د دغه برید مسوولیت تر دې دمه چا پر غاړه نه دی اخیستی، خو نوموړي په غیر مستقیم ډول طالبان گرم بللي دي.

هغه پر خپل ټویټر لیکلي: « طالبان باید پوه شي چې دا ډول کړنې چې مسوولیت لري، نړیوال پاروي او که په افغانستان کې سوله راځي، باید دا ډول کړنې ودرول شي.»



وېلسن داسې مهال په افغانستان کې د هدفي وژنو په اړه خواشیني ښودلې، چې څو ورځې مخکې په ننگرهار کې د افغانستان د ملي امنیت ادارې وویل، هغه کسان یې نیولي چې د وېلسن د وژلو پلان یې درلود. د ملي امنیت په اعلامیه کې ویل شوي وو چې دا کسان د داعش ډلې د هدفي بریدونو د حلقې غړي دي.

تر وېلسن مخکې د امریکایي ځواکونو ویاند سوني لگیت پر خپل ټویټر د افغان خبریالانو، مدني ټولنې د فعالانو او حکومتي مامورانو هدفي وژنې د طالبانو کمپاین او کار بللی او لیکلي یې وو چې باید د سولې بهیر کامیابېدو لپاره د طالبانو دا کمپاین ودرول شي، خو طالبانو بیا دا تورونه رد کړي.

د یادونې ده چې په کابل کې د سترې محکمې د قاضیانو ترور د پیل شویو هدفي وژنو تر ټولو تازه او وروستۍ پېښه ده. تر دې مخکې د کابل په گډون په یو شمېر نورو ولایتونو کې هم خبریالان، مدني فعالان او د ځینو ملکي او نادولتي‌ادارو کارکوونکي په دا ډول بریدونو کې وژل شوي او مسوولیت یې چا نه دی منلی.

مسیر ورځپانه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
اېډېټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
گرافیک او ډیزاین: ارمان
چاپخونه: وایگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

غوره کیفیت او چټک خدمات په وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL PRINTING CO
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co@gmail.com

دوشنبه د ۱۳۹۹ د مرغومې ۲۹مه | د ۲۰۲۱ د جنوري ۱۸مه | ۶۶۵مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۱ | ۲۰ | ۲۰ | ۱۳ | ۱۹ | ۲۱ |
| ۰ | ۵ | ۱ | ٦ | ٦ | ۱ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۳۲ | لمر ختل ۰٦:۵۹ | ماسپښین ۱۲:۰۴ | مازیګر ۰۳:۳۱ | ماښام ۰۵:۰۹ | ماخوستن ۰٦:۳۷

## نړۍ



فرانسه: که امریکا د ۲۰۱۵ز کال تړون ته راونه ګرځي، ښايي ایران اټومي وسلې جوړې کړي

۲

## مک کرېسټال: روان کړکېچ ته په کتو، امریکا د یوې خطرناکې کورنۍ جګړې پر لور روانه ده



امریکايي متقاعد جنرال مک کریسټال په امریکا کې د ډونالډ ټرمپ د پلویانو له لوري پر کانګرېس برید پر امریکا د سپټمبر د ۱۱ مې له بریدونو سره پرتله کړی او ویلي یې دي چې امریکا د یوې خطرناکې کورنۍ جګړې پر لور روانه ده.
ډیلي میل د یاد جنرال له قوله ویلي، د سپټمبر د ۱۱ مې بریدونه او په امریکا کې پر کانګرېس برید یو بل ته ډېر ورته والی لري او په وینا یې، د سپټمبر د ۱۱ مې تر بریدونو پر کانګرېس برید څکه خطرناک دی، چې دې ناوړه پېښې په نړیواله کچه د امریکا د ډیموکراسۍ دعوې ته سخت زیان ورساوه. هغه زیاته کړې چې ښايي په راتلونکو ورځو کې هم ځینې نادودې ولیدل شي او له همدې امله به د امریکا په کورنیو چارو کې د نورو لاسونو ته زمینه مساعده او وضعیت نور هم پېچلی شي. نوموړي اندېښنه ښودلې او زیاته کړې یې ده، چې که ټرمپ له واکه لرې هم شي، د نوموړي د پلویانو بې بندوباره ډله به تر ابده د امریکا د یووالي پر وړاندې ګواښ پاتې شي.
دا په داسې حال کې ده چې تېره اونۍ د ټرمپ یو شمېر قهرجنو پلویانو د امریکا د کانګرېس پر ودانۍ برید وکړ او د څو ساعتونو لپاره یې یاده ودانۍ تر کنټرول لاندې راوستې وه. دوی دغه راز له پولیسو سره هم نښتې وکړې چې د یوه پولیس په ګډون پکې شپږ تنه ووژل شول.

## تازه شمېرې: په نړۍ کې پر کرونا ویروس د اخته کسانو شمېر له ۹۵ میلیونو واوښت

د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې پر کرونا ویروس د اخته کسانو شمېر ۹۵ میلیونه او ۴۹ زره او ۸۵۲ کسانو ته رسېدلی دی. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله دوه میلیونه او ۳۲ زره او ۸۳۸ کسان مړه شوي او نږدې ٦۸ میلیونه نور ترې ببرته رغېدلي دي.
د یادو شمېرو له مخې، د امریکا متحده ایالتونه د دغه ویروس د ډېرو مثبتو پېښو او قربانیانو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو پر بنسټ، په امریکا کې د دغه ویروس مثبتې پېښې ۲۴ میلیونه او ۳۰۸ زره او ۲٦ ته رسېدلي او ۴۰۵ زره او ۲٦۲ نور امریکایان ترې مړه شوي دي.
دغه راز هند د ۱۰ میلیونه او ۵۵۸ زره او ۷۱۰ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، برازیل د اته میلیونه او ۴۵٦ زره او ۷۰۵ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ درېیم، روسیه د درې میلیونه او ۵٦۸ زره او ۲۰۹ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ څلورم او برېټانیا د درې میلیونه او ۳۵۷ زره او ۳٦۱ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ پنځم هغه هېواد دی، چې د کرونا ویروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوې دي.
فرانسه، ترکیه، ایټالیا، هسپانیا او جرمني بیا په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي.


## اندرابی: طالبان می‌خواهند با بیرون شدن نیروهای خارجی به جنگ افزایش دهند



مسعود اندرابی وزیر امور داخله افغانستان می گوید که اگر طالبان صلح نکنند و به جنگ ادامه دهند، آنان برای شکست‌شان راه‌های دیگری نیز دارند.
در خبرنامه‌ای که از سوی این وزارت پخش شده آمده که آقای اندرابی این گفته‌هایش را در دیدار با شماری از جنرال‌های بازنشسته و آگاهان سیاسی افغانستان بیان کرده‌است.
به گفته‌ی مسعود اندرابی طالبان هنوز هم متعهد به صلح نیستند و با بیرون شدن نیروهای خارجی می‌خواهند به جنگ افزایش دهند. طارق آرین سخن‌گوی این وزارت به رادیو آزادی گفته است که در این دیدار درباره‌ی وضعیت امنیتی و اصلاحات آمده در وزارت امور داخله نیز بحث شده‌است.
آقای آرین افزوده است: «آن‌ها از برنامه‌های اصلاحی که در وزارت داخله است، استقبال کردند و اطمینان دادند که برای مشورت‌های لازم برای بهبود وضعیت امنیتی آماده هستند با وزارت داخله هم‌کاری می‌کنند. رهبری وزارت داخله هم برای مشوره‌گیری از اقشار مختلف به ویژه جنرالان متقاعد و کارشناسان ارشد امور اطمینان دادند.»
عبدالباری عارض که در نشست با آقای اندرابی شرکت کرده بود، گفته است که وزیر داخله از تشدید جنگ در سال‌آینده خورشیدی نیز خبر داده‌است.
از سویی هم ذبیح‌الله مجاهد سخن‌گوی گروه طالبان در گفت‌وگو با رادیو آزادی جنگ را بدیل ناکامی مذاکرات صلح خواند. آقای مجاهد به رادیو آزادی گفته است که گفت‌وگوهای آغاز شده صلح در دوحه راه‌خوبی برای پایان جنگ است و اگر مانع در این گفت‌وگوها ایجاد شود جنگ راه‌حل نظامی آن خواهد بود.


## ژوند

## ایل جي مېکروب وژونکی روبوټ معرفي کړ



ایل جي کمپنۍ داسې یو روبوټ معرفي کړی چې په خپله د الټرا وایلېټ وړانګو په مرسته له مختلفو سطحو څخه مېکروبونه پاکوي. دغه روبوټ د کرونا وایرس له خپرېدو څخه په مخنیوي کې د مرستې لپاره معرفي شوی دی. دغه روبوټ کلویې یو وي – سي نومول شوی او له هغو ځایونو څخه چې ډېر لمس کېږي، د الټرا وایلېټ وړانګو په مرسته مېکروبونه پاکوي.
ایل جي کمپنۍ وایي چې دغه روبوټ هوټلونو، سوداګریزو مرکزونو، دفترونو، تعلیمي ادارو او نورو ټولو هغو ځایونو لپاره چې د خلکو ګڼه ګونه پکې ډېره وي، د مېکروبونو له منځه وړلو کې د پام وړ مرسته کولی شي. ایل جي کمپنۍ وایي چې دغه روبوټ یې وروسته له هغه جوړ کړی چې د عامه ځایونو پاکوالی د کرونا وایرس له خپرېدو څخه د مخنیوي لپاره یو له لومړیتوبونو څخه دي. دغه روبوټ په اتومات ډول خپل فعالیتونه تر سره کوي، خو که کاروونکي وغواړي د یو کاریال له لارې یې کړنې او فعالیتونه کنټرولولی شي.

## څنګه مثبت لیدلوری خپل کړو؟



همدا شېبه مو په خپله شاوخوا کې شته بریالي کسان مجسم کړئ، زه نه پوهېږم چې دغه کسان څوک دي؛ خو پوهېږم چې د دغو کسانو لویه او د پام وړ ځانګړنه مثبت فکر درلودل دي. شرایط او پېښې په بشپړه توګه د دغو کسانو په ګټه پر مخ ځي، ډېرې کسان د هغوی د دغو شرایطو په لیدو وایي چې فلانی کس ډېر ښه بخت او طالع لري، احساس کوي چې باندنۍ پېښې د دغو کسانو لپاره اغېزناکې دي او د بخت او طالع نوم پرې ږدي، په داسې حال کې چې مثبت فکر، غوره احساس او روښانه لیدلوری دی چې پېښو او شرایطو ته د دغو کسانو په ګټه بدلون ورکوي. زه غواړم ووایم چې تاسو هم کولای شی خپل لیدلوري ته په بدلون ورکولو سره پر یو مثبت فکر لرونکي او طالع‌من شخص بدل شی. ډېره غوره ده چې موږ نسبت پېښو او شرایطو ته خوشبینه و اوسو او وکولای شو چې پېښو ته له مثبتې زاویې څخه په کتلو سره غوره شرایط رامنځته کړو او د ستونزو پر مهال د فرصتونو په لټه کې و اوسو. یانې دا چې فرصت ته په تمه نه شو؛ بلکې په خپله فرصتونه رامنځته کړو.


STUDENT'S ACCOUNT

د زده کونکو/زده کړیالانو جاري حساب

عزیزي بانک خوښ دی چې خپل ځانګړی محصول "د زده کونکو جاري حساب" په لاره اچولی چې د افغانستان د زده کونکو لپاره ځانګړې ډالۍ ګڼل کېږي. نوموړی حساب زده کونکو/زده کړیالانو ته د وړیا ای تي ام کارت او په کلنۍ فیس کې د ماسټر ډبټ کارت تخفیف سره چمتو شوی دی.

www.azizibank.af 1515

عزیزي بانک
Azizi Bank